# د خلافت رڼا نشته او کشمیري ځوانان د مخدره توکو په تیارو کې ورک دي

**خبر:**

بي بي سي د جون په ۵مه، په «کشمیر کې د مخدره توکو کارولو د خطرناک زیاتوالي» په اړه یو راپور خپور کړ. د هند تر کنټرول لاندې کشمیر کې د درملنې له یوازیني مرکز بهر ډیر تنکي ځوانان لیدل کیږي، چې له خپلو والدینو سره په کتار کې ولاړ دي او د رواني او عصبي علومو له انسټیټیوټ (IMHANS) څخه درمل ترلاسه کوي چې ببرته روغ شي او د ساري ناروغیو د لېږد مخه ونیسي. په مارچ کې یوه فدرالي وزیر پارلمان ته وویل چې په جمو او کشمیر کې نیږدې یو ملیون خلک -چې د دغې سیمې د نفوس شاوخوا ۸ سلنه جوړوي- یو ډول مخدره توکي کاروي؛ لکه چرس، اپیوني توکي یا ارام بښونکي. متخصصین وایي چې دا د دندو د کمښت او د جګړې سیمه کې د اوسېدو په سبب پیدا شوو رواني ستونزو په ګډون ګڼ عوامل لري.

**تبصره:**

متخصصین وایي چې په دې سیمه کې د مخدره توکو ډېر کارول د دندو د کمښت او د جګړې سیمه کې د اوسېدو په سبب پیدا شوو رواني ستونزو په ګډون ګڼ عوامل لري. ښځې هم په زیاتېدونکې کچه په مخدره توکو روږدې کیږي او دا په سیمه کې د کورني جوړښت او د ماشومانو د راتلونکي لپاره لوی ګواښ دی. بله لویه ستونزه د دغې سیمې د قانون پلي کوونکو په منځ کې پراخ فساد او د مخدره توکو له کاروباریانو سره د دوی همکاري ده چې د هند او پاکستان تر منځ د جګړې له امله رامنځته شوي سیاسي کړکېچ لار ورته هواره کړې.

د دغې ټولنیزې ناروغۍ او لویې ستونزې درملنه هغه باثباته او ځواکمن سیسټم ته اړتیا لري، چې د چارو واک هغو جنایتکارانو او فاسدو سیاستوالو ته نه ورکوي چې د قدرت لپاره یوازینۍ انګېزه یې شخصي ګټې دي. مخدره توکي او مسکرات حرام دي او ان د «تفریحي» کارولو اجازه یې هم نشته؛ الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ]**

**ژباړه:** «اې مؤمنانو! بېشکه شراب، قمار، بتان او د فال نیولو غشي ټول ناولي او شیطاني کارونه دي، له هغو څخه ډډه وکړئ، ښایي چې بریالي شئ.»[مائده:۹۰]

خلافت دولت به د هغه هر اړخيز تعليمي نظام ترڅنګ چې اسلامي شخصيتونه روزي او ايماني فضا رامنځته کوي؛ د مخدره توکو پر قاچاق او کارولو جدي بنديز ولګوي او عاملينو ته به يې سخته سزا ورکوي. د خلافت دولت اقتصادي نظام به د بيکارۍ او بې وزلۍ هغه اقتصادي ستونزې هم له منځه يوسي، چې په سيمه کې د فاسدو پاليسيو او ناسم مديريت له امله رامنځته شوې. په سيمه کې د بشپړ اسلام له پلي کولو پرته د محدودو سرچينو لرونکو انجوګانو کار داسې دى لکه د سرطان پر دانه چې بنداژ لګوې؛ د خلکو هيڅ درد نه دوا کوي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**عمرانه محمد**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**